# ايا تاسو بايد د هيپتايت B معاينه وکړئ؟

هيپتايت B يو ويروس دی چې په ځيګربريد کوي او د ځيګر سرطان لامل کيدی شي.

ډيری خلک نه پوهيږي چې دوی په ناروغۍ اخته دي ځکه چې دوی احساس نه کوي يا ناروغ نه ښکاري، خو دوی کولی شي ويروس نورو ته انتقال کړي.

يو خوندي او اغيزمن واکسين شتون لري چې کولی شي د هيپتايت B مخه ونيسي.

## هيپتايت B خپريږي له:

- اميندواره کس څخه د زيږون پرمهال ماشوم ته
- جنسي اړيکې له لارې
- د اخته کس د وينې سره اړيکه
- د استرا، د غاښونو بورس، يا د نوکانو کليپر(ناخون ګير) شريکولو له لارې

## هيپتايت B د دې لخوا نه خپريږي:

- د خوراکي توکو او خواړو شريکولو
- په غيږه کې نيول، ښکلول يا لاسونه نيولو له لارې

## څوک بايد معاينه وکړي؟

- هغوی چې اميندواره دي
- هغه خلک چې د هغه چا سره ژوند کوي چې هيپتايتس B لري
- هغه خلک چې په هغو سيمو کې زيږيدلي چيرې چې هيپتايت B ډير عام دی، لکه افريقا يا آسيا، يا د دوی مور او پلار په دې سيمو کې زيږيدلي وی
- هغه خلک چې د خطر ځينې عوامل لري

**د نورو معلوماتو لپاره:**

**www.cdc.gov/hepatitis/hbv/**
**doh.wa.gov/hepbhub**

Hep B Hub
doh.wa.gov/hepbhub

Washington State Department of Health

DOH 420-408 May 2022 Pashto

د دې سند په بله بڼه کې غوښتلو لپاره، 1-800-525-0127 ته زنګ ووهئ. کاڼه او هغه پيرودونکي چې د اوريدو ستونزه لري، په مهربانۍ سره 711 (Washington Relay) ته زنګ وهئ او يا civil.rights@doh.wa.gov ته بريښناليک ور واستوئ.

Minnesota Department of Health (د مينيسوټا د روغتيا څانګې) په اجازې سره تطبيق شوی